<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

## د ډیموکراتیک نظام واکمني پای ته ورسوئ او د رښتیني راشده خلافت د تاسیس لپاره هڅې وکړئ.

## د پاکستان مزدور رژیم د خلافت په غوښتونکو پسې په تور تړولو سره هڅه کوي چې د خپل بادار (ټرامپ) ملاتړ تر لاسه کړي.



**(ژباړه)**

دې ته په کتو چې مسلمانان د شعبان په میاشت کې د روژې مبارکې میاشتې لپاره خپل عبادتونه ډېر کړل، د پاکستان حکامو هڅه وکړه چې د الله سبحانه وتعالی غضب پر وشي. هغوی یوازې د خپلو کوڅه ډبو په وسیله د خلافت د غوښتونکو پر نیولو بسنه ونه وکړه، بلکې له خپلو شیطانانو سره یوځای یې پر حزب التحریر پسې لوی تورونه او درواغ جوړ کړل. هغوی د مې میاشتې پر ۱۰مه د یوې ټلویزیوني خپرونې له لارې په دغو غوښتونکو پسې تورونه وتړل او وروسته یې د مې میاشتې پر ۱۱مه داسې خبر خپور کړ چې په هغه کې یې د خلافت غوښتونکي د چاودېدونکو توکو په درلودلو سره تورن کړل. د دغه کار په تر سره کولو سره د پاکستان حکامو

خپله کمزوري د خلافت تر تاسیس وړاندې د هغه څه په واسطه چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي، د زور په وسیله د خلافت دغو غوښتونکو ته وښودله؛ ځکه هغوی د خپل ملاتړ لپاره له قران او سنتو څخه کوم څه نه لري.

رښتیا هم چې حزب التحریر د نبوت پر تګلاره د اسلامي خلافت لپاره له تاوتریخوالي پرته عوت سره په ټول پاکستان کې په سم ډول پېژندل شوی او ټول درناوی ورته لري. له همدې امله مخکښي تاوتریخوالي یوازې هغه کسان کمزوري کړي چې لاسپوڅي دي. دې ته په کتو چې دغه رژیم ولې د خلافت په غوښتونکو پسې په تور ویلو او تښتولو سره پخپله ښه کې مېخ ټکوهلی، باید ووایو چې دغه کار د هغوی د واکمنۍ پای ته رسېدل ښيي. دا چې د پاکستان پر حکومت د خلکو نیوکو زور اخیستی، نو پاکستان په واشنګټن کې له خپلو بادارانو څخه په فدرال دولت او پنجاب ولایت کې د خپلو ظالمو قدرتونو لپاره د مرستې غوښتنه وکړه. له همدې امله دغو حاکمانو له ټاکنو تر سره کېدو وړاندې د پیسو د نړیوال صندوق د بودجې پر تصویب ټینګار وکړ، تر څو ښکېلاکګرو ته دا وښيي چې هغو به د پاکستان اقتصاد له منځه یوسي. د دې لپاره چې د خپل بادار (ټرامپ) خوښي تر لاسه کړي، هغوی په ځلونه «نریندرامودي ته د سوال لاس اوږدوي او د تمساح په څېر اوښکې تويوي؛ پر دې سربېره چې د کنټرول په کرښه کې د نریندرامودي کثیف لاسونه زموږ د ځواکونو او خلکو په وینو سره دي. د دې تر څنګ، د پاکستان حکام د دې لپاره چې د نړۍ په تروریستي سازمان (CIA) کې د امریکايي بادارانو له لوري دغه امتیاز تر لاسه کړي، د خلافت غوښتونکو پر وړاندې یې احمقانه کمپاین پیل کړ؛ په داسې حال کې چې پردې پوهېدل چې په پاکستان کې د خلافت تاسیس هغه څه دي چې د صلیبیانو له سترګو یې خوبونه تښتولي دي. پر همدې بنسټ، د حزب التحریر ـ ولایه پاکستان د یاد هېواد حکامو او غربي بادارانو ته وایي:

**﴿قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ﴾**

[آل عمران: ۱۱۹]

***ژباړه:*** *هغوی ته ووایه چې پخپله غوسه کې مړه شئ.*

حزب التحرير له ټولو رسنيو څخه غواړي چې په رښتينې کلمو سره د نبوت پر تګلاره د خلافت بيا راژوندي کېدو لپاره د دغه رژيم تورونو ته ځواب ورکړي. دغه حزب په پاکستان کې له مخلصو امنيتي سازمانونو څخه غواړي چې د دغه مزدور رژيم چې همدا اوس د ړنګېدو په حال کې دی، ټولو امرونو ته شاه کړي او د خلافت له غوښتونکو سره؛ چې د مسلمانانو هيلې او لارښوونکي دي، مرسته وکړي او همدارنګه د دغه هېواد په اردو کې له مخلصو ځواکونو څخه غواړي چې ديادو خاينو حکامو واکمنۍ ته د پای ټکی کېږدي؛ چې خپلو خلکو ته د خدمت پر ځای د کافرانو په غلامۍ کې ژوند تېروي او د نبوت پر تګلاره د رښتيني اسلامي خلافت بيا راژوندي کېدو لپاره نصرت ورکړي. ايا د زور او استبدادي حکومت پای ته رسېدو لپاره دغه ښه موکه نه ده؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم په دې اړه زيری ورکړی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»**

***ژباړه:*** *وروسته به د زور او جبر پادشاهي راشي او تر هغه وخته چې الله سبحانه وتعالی وغواړي، دوام کوي. وروسته له دې کله چې الله سبحانه وتعالی وغوښتل، دغه د زور واکمني لېرې کوي او يو ځل بيا به د نبوت پر ګلاره خلافت تاسيس شي او له دې وروسته چوپ شو.*

**د حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: PR۱۸۰۳۳**

**۱۴۳۹ هـ.ق د شعبان ۲۵**

**۲۰۱۸ ميلادي کال د مې ۱۱مه**